# د افغـــانستان اســـلامي امـــارت

## د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**
**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**
**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۲۷/ محرم الحرام /۱۴۴۵ هـ، ق مطابق ۱۲/ اسد /۱۴۰۳هـ، ش**

# په شريعت کې د منافقينو د عادتونو او ناوړه خصلتونو بيان

الحمد لله الحليمِ الغفَّار، العزيزِ الجبار، والصلاةُ والسلام على النبيِّ المُختار، وآله وصحبه ما تعاقَبَ الليل والنهار. أمَّا بعد:قال الله سبحانه وتعالى: (إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ وَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرا * إِلا الَّذِينَ تَابُوا وَأَصْلَحُوا وَاعْتَصَمُوا بِاللَّهِ وَأَخْلَصُوا دِينَهُمْ لِلَّهِ فَأُولَئِكَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ وَسَوْفَ يُؤْتِ اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ أَجْراً عَظِيماً * مَا يَفْعَلُ اللَّهُ بِعَذَابِكُمْ إِنْ شَكَرْتُمْ وَآمَنْتُمْ وَكَانَ اللَّهُ شَاكِراً عَلِيماً). النساء: (۱۴۷)

اسلامي شريعت خلک په درې ډلو ويشلي دي لومړی خالص مؤمنان چې په ظاهر او باطن کې په الله تعالی ايمان راوړی وي .

**دوهم:** خالص کفار چې په ظاهر او باطن کې کافران وي او د الله تعالی او د مؤمنانو دښمنان وي. دريمه ډله منافقين دي چې په ظاهر کې د اسلام دعوه کوي؛ خو په باطن کې يې کفر پټ ساتلی وي.

الله تعالی ددې درې واړو ډلو ذکر د بقرې سورت په اول کې کړي دي . دخالصو مؤمنان ذکر يې په درې آيتونو کې کړی دی اود خالصو مؤمنانو يې پنځه صفات بيان کړي دي. او د خالصو کفارو ذکر يې په دوه آيتونو کې کړی دی اود خالصو کفارو يې څو محدود ناوړه عادتونه او بد خصلتونه بيان کړي دي او د منافقينو دناوړه او بدو عادتونو او خصلتونه ذکر يې په دولسو آيتونو کې کړی دی، دا ځکه چې د منافق پيژندل مشکل او ګران وي او ددوی پيژندل په ناوړو خصلتونو او بدو عاداتو سره کيږي . مؤمنانو او اسلامي ټولنې ته د منافقينو له خوا زيات ضرر متوجه وي او داسلام او مسلمانانو پر خلاف د منافقينو فتنې ، چلونه، فريبونه ، دسيسې زياتې ړنګوونکي وي نسبت ظاهر کافرته. دا منافقين دي چې د مسلمانانو په صفونو کې ولاړ وي ، داسلام دعوا کوي ، د اسلام هدايات له نږدې اوري، د پيغمبر عليه السلام په مجلس کې حاضر وي او د نبي عليه السلام احاديث او لارښوونې اوري، منافقين د نبي عليه السلام په زمانه کې د وحې د نازليدو شاهدان ؤ او دقرآن کريم اعجاز يې په سترګو ليدلو خو بياهم منافقينو داسلام سره د مسلمانانو د صف له داخل څخه پټه دښمني کوله اود مسلمانانو په منځه وړلو کې يوه لحظه ارام نه کيناستل.

د هغه دښمن نقصان اوضرر زيات وي چې په ښکاره ستا په صف کې ولاړ وي او ستا د حمايت ډاډ تاته درکوي او په پټه درته هلاکت او تباهي غواړي. د همدې منافقينو له لاسه داسلام بې شميره قلاګانې ونړيدلی، بې شميره مسلمانان شهيدان شول، بې شميره دسيسې مسلمانانو ته جوړې شوی او دمنافقينو له لاسه د مسلمانانو ترمنځ اختلافات رامنځ ته شول، د منافقانو دتخريبونو له امله ضعيف الايمان مؤمنان په مختلفو امتحاناتو کې ولويدل.

داچې داسلام او مسلمانانو پرخلاف دمنافقينو خطرات زيات خطرناک او تباه کوونکي دي ، الله جل جلاله ورته په جهنم کې سخته او دردوونکی طبقه مقرر کړی ده چې هغه د جهنم آخري او ښکته طبقه ده. الله تعالی فرمايلي دي:(إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ وَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرا). النساء: (١٤٥)
ترجمه:- بېشکه منافقان د اور تر ټولو لاندینۍ طبقه کې دي او ته به کله هم د هغوی لپاره څوك مدد کوونکی ونه مومې
الله تعالی منافقينو ته د جهنم په اور کې تر ټولو ټيټه طبقه ځکه ټاکلی ده چې ددوی کفر ډير خطرناک دی او اسلام ته يې خطر زيات دی؛ ځکه دوی د مسلمانانو په منځ کې اوسيږي اودوی د رسالت د هغو معجزاتوشاهد دي چې نور کفار يې په هغه اندازه نه ويني او منافقين داسلام صحت او حقانيت سره دومره آشنا دي چې هغه نور کفار ورڅخه خبر نه دي؛ هرکله چې ددې دلائلو او بالمشاهده علم باوجود په خپل کفر ولاړ دي او داسلام او مسلمانانو ضد فعاليتونه کوي، نو ددوی کفر تر نور زيات غليظ دی او په زړونو کې يې زيات خباثت پروت دی او ددوی دښمني د الله او د هغه درسول-صلی الله عليه وسلم- او دمؤمنانو سره نسبت هغو کفارو ته زياته ده چې د مسلمانانو څخه لرې په دښمنۍ کې اخته دي.
آيا دا ناوړه منافقين يواځې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کې ؤ او که اوس هم شته او د هغوی په څير خصلتونه او عادتونه لرې او ړنگه وونکي کارونه کوي؟
هو!په هره زمانه او هر ځای کې منافقان موجوددي او هيڅ وخت او هيڅ ځای له منافقانو خالي نه وي او ددوی سلسله به ترقيامته جاري وي او کوم بدعادات او ناړوه خصلتونه چې درسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کی منافقانو درلودل دنن زمانې منافقين يې هم لري،کومه دښمني چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کې منافقينو د اسلام او مسلمانانوسره درلودله د نن ورځې منافقين هم د هغوی په شان دښمني لري.کومه خصلتونه او بدعادتونه چې د نبي عليه السلام منافقانو درلودل،د نن ورځې منافقين هم هماغه ناړوه عادتونه او بد خصلتونه لري.
البته د اسلامي شريعت په نصوصو کې چې د منافقينو کوم ناوړه عادتونه او بد خصلتونه ذکر شوي دي، نو هغه ددوه ډوله منافقانو په اړه راغلي دي چې يو ته عقيدوي منافق ويل کيږي او عقيدوي منافق هغه شخص دی چې په ژبه مسلمان وي او په زړه کې کافر وي.
او بل عملي منافق دی، عملي منافق هغه شخص ته ويل کيږي چې په حقيقت کې مسلمان وي خو دعقيدوي منافقينو ناوړه عادتونه او بد خصلتونه په کې وي چې داسې شخص ته عملي منافق ويل کيږي. داسې شخص ولو که د منافقينو په ناوړه عادتونو او بدو خصلتونو نه کافر کيږي ولی داسې اعمال او خصلتونه کبيره گناه ده او دده دايمان د کمزورۍ او يا دايمان د زائليدو ويره په کې وي.
صحابه کرام او نور ددين بزرگان به د عملي نفاق څخه ډير زيات ويريدل. په يوروايت کې راځي: وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ التَّيْمِيُّ مَا عَرَضْتُ قَوْلِي عَلَى عَمَلِي إِلَّا خَشِيتُ أَنْ أَكُونَ مُكَذِّبًا وَقَالَ ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ أَدْرَكْتُ ثَلَاثِينَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّهُمْ يَخَافُ النِّفَاقَ عَلَى نَفْسِهِ). صحيح البخاري ت (١ /٥١)
امام ابراهيم تيمي چې جليل القدر تابعي ؤ فرمايې: مانه دی وړاندې کړی خپل قول په خپل عمل باندې مگر ددې څخه ويريدلی يم چې زه به درواغجن يم. ابن ابي مُلَيکه تابعي وايې چې ما ديرش د رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرام وموندل چې ټول ويريدل له عملي نفاق څخه په خپل ځان باندې.
دامام حسن بصری رحمه الله څخه روايت دی چې هغه به ويل:(مَا خَافَهُ إِلا مُؤْمِنٌ ، وَلا أَمِنَهُ إِلا مُنَافِقٌ). شرح صحيح البخارى ـ لابن بطال (١ /١٠٨) نه ويريږي له نفاق څخه مگر مؤمن او په امن نه وي له نفاق څخه ؛ مگر منافق.
صحابه کرام ځکه له نفاق څخه ويريدل چې الله تعالی فرمايلي دي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لا تَفْعَلُونَ).الصف: (٢)
ترجمه:- ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو هغه (خبره) ولې وايئ چې نه يې کوئ!

**په شریعت کې د منافقینو عادتونه او ناوړه خصلتونه زیات ذکر شوي دي چې ځینې یې په لاندې ډول دي:**
**۱- الله تعالی فرمایې چې د منافقینو په زړونو کې مرض دی .( فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ فَزَادَهُمُ اللَّهُ مَرَضًا وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ بِمَا كَانُوا يَكْذِبُونَ ) البقرة: (۱۰)**

**ترجمه:- د دوی په زړونو کې بېماري ده، نو الله دوی ته بېماري ورزیاته کړه، او د دوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب دی؛ په دې سبب چې دوی به همېشه دروغ ویل**

**مفسرین کرام وایې چې ددې مرض څخه مراد د منافقینو په زړونو کې پراته شکوک او شبهات او شهوات دي چې ددوی زړونه یې په هلاکت کې اچولي دي یا ددې مرض څخه مراد ددوی په زړونو کې نفاق او د مسلمانانو سره دښمني ده.**

**۲- د منافقینو بل بد عادت او ناوړه خصلت په امانت کې خیانت کول دي او وعده خلافي کول دي او په خبرو کې دروغ ویل دي. په حدیث شریف کې راځي: (عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقًا خَالِصًا وَمَنْ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْهُنَّ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنَ النِّفَاقِ حَتَّى يَدَعَهَا إِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ وَإِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ). صحیح البخاري (۱ /۳۸)**

**ترجمه:- دعبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:څلور خصلتونه دي په چاکې چې (دا څلور) خصلتونه موجود وي هغه به خالص منافق وی او په چاکې چې یو خصلت ؤ نو په هغه کې به د منافقت یو خصلت وي ترهغې پورې چې هغه خصلت پریږدي،کله چې امین وګرځول شي (یعني امانت ورته وسپارل شي) په امانت کې خیانت کوي او کله چې خبرې وي دروغ وایې او چې کله وعده کیږي په هغې کې غدرکوي( وعده خلافي کوي) اوکله چې جنګ کوي (له چاسره) نو کنځل کوي.**

**۳- د منافقینو د بدو عاداتو او ناوړه خصلتونو دا هم ده چې منافقین دالله تعالی په آیتونو او مؤمنانو پورې ټوکې او مسخرې کوي.**
**(وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا قَالُوا آمَنَّا وَإِذَا خَلَوْا إِلَى شَيَاطِينِهِمْ قَالُوا إِنَّا مَعَكُمْ إِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِئُونَ ). البقرة( ۱۴)**
**ترجمه:- او کله چې دوی له مومنانو سره ملاقات وکړي، نو وایي چې مونږ ایمان راوړی دی، او کله چې له خپلو شیطانانو (مشرانو) سره یواځې شي، نو (بیا) وایي: په رښتیا خو مونږ له تاسو سره یو، خبره همدا ده چې مونږ خو بس استهزا (خندا) کوونکي یو**

**په یو بل مبارک آیت کې راځي: (الَّذِينَ يَلْمِزُونَ الْمُطَّوِّعِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ فِي الصَّدَقَاتِ وَالَّذِينَ لاَ يَجِدُونَ إِلاَّ جُهْدَهُمْ فَيَسْخَرُونَ مِنْهُمْ سَخِرَ اللَّهُ مِنْهُمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ). التوبة: (۷۹)ترجمه: هغه کسان چې پر نفلي خیرات کوونکو مومنانو باندې د صدقاتو په باره کې عیب لګوي او پر هغو کسانو باندې (عیب لګوي) چې هغوی نه مومي مګر خپل وس او محنت، نو دغه (منافقان) په دوی پورې مسخرې کوي، الله به په دوی پورې مسخرې وکړي او د دوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب دی.**

**د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وخت منافقین دوه مخي ؤ ، په یو مخ به له مؤمنانو سره مخامخ کیدل او په بل مخ به له خپلو ملګرو کفارو سره مخامخ کیدل او همدا راز د هغو دوه ډوله ژبې وې په یوه ژبه به له مسلمانانو سره غږیدل او د مسلمانانو صفت او ملګرتیا به یې کوله او په بله ژبه به له کفارو سره غږیدل او ورته به یې ویل چې مونږ هغو پورې ټوکې او مسخرې کوو مونږ خو اصلاً ستاسو ملګري او دوستان یو.**
**نو په کار ده چې مؤمنان له دغو بدو عادتونو او ناوړه خصلتونو څخه ځانونه وساتي ترڅو چې د عملي نفاق څخه خلاصی ومومي.**
**ځینې خلک د الله تعالی د آیتونو او نورو شعائرو په اړه بې باکي کوي او ورپورې مسخرې او ټوکې کوي چې دا ډېره خطرناکه خبره ده. فقهای کرام لیکي که چیرې څوک کوم آیت د ټوکو او مسخرو په ډول ووایې په دې کارسره کافر**

کیږي. ( أو سخر بآية منه كفر) مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر (۲ /۵۰۷) ترجمه: او یا يې د قرآن کريم په کوم آيت پورې مسخره وکړه، کافر شو.

**۴- د منافقينو بل بد عادت او ناوړه خصلت دادی چې د مؤمنانو ترمنځ به فساد اچوي او مسلمانان به سره جنګوي.**

په يو مبارک آيت کې د منافقينو ددې خصلت ذکر داسې شوی دی: (لَوْ خَرَجُوا فِيكُمْ مَا زَادُوكُمْ إِلَّا خَبَالًا وَلَأَوْضَعُوا خِلَالَكُمْ يَبْغُونَكُمُ الْفِتْنَةَ وَفِيكُمْ سَمَّاعُونَ لَهُمْ). التوبة: (۴۷)ترجمه: که دوی ستاسو په لښکر کې وتلي وی (،نو) دوی به تاسو ته نه و زيات کړی (هيڅ شی) مګر شر او ضرور به دوی ستاسو په مينځ کې (د خرابۍ او چغلۍ لپاره) چابکي کړې وه، په داسې حال کې چې دوی به تاسو لپاره فتنه لټوله او په تاسو کې د هغوی لپاره څه جاسوسان هم شته ، د منافقينو عادت دادی چې د خلکو ترمنځ تفرقه اچوي ، مسلمانان سره جنګوي او پرځای ددې چې ددوه کسانو ترمنځ خير وغواړي کوښښ کوي چې د هغوی ترمنځ ددښمنۍ اور نور هم زيات شي.

د خلکو ترمنځ فساد اچول او ديو خبره بل ته رسول ترڅو په جنګ شي خورا ناوړه او لويه ګناه ده او په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِى وَائِلٍ عَنْ حُذَيْفَةَ أَنَّهُ بَلَغَهُ أَنَّ رَجُلاً يَنِمُّ الْحَدِيثَ فَقَالَ حُذَيْفَةُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ نَمَّامٌ ». صحيح مسلم (۱ /۷۰)

ترجمه:- د ابو وائل څخه روايت دی هغه د حضرت حذيفه بن اليمان رضي الله څخه روايت نقلوي چې بيشکه يو سړی ؤ چې خبرې به يې نقلولې ، حذيفه رضي الله عنه وويل چې ماد رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې وه يې فرمايل: جنت ته به داخل نشي دخبرونقلوونکی (چغل خور )شخص.

**۵- د کتاب الله او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په ځای په بل چا فيصله کول. د منافقينو بل ناوړه خصلت دادی چې** دالله تعالی د کتاب او دهغه د رسول پر سنتو به فيصله نه کوي بلکې خپلې فيصلې به په طاغوت کوي. که چيرې منافق شخص راوبلې چې راځه په وحی فيصله کوو له دې څخه به تختي او وايې به چې نه په شريعت فيصله نکوو بلکې په فلاني وضعي قانون يا فلاني شخص باندې فيصله کوو.

حال داچې ټولې فيصلې بايد په اسلامي شريعت وشي او د شريعت په مقابل کې نور قوانين او اشخاص د طاغوت حيثيت لري.

الله تعالى د منافقينو د دې خصلت په باره کې فرمايلي دي:(أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَنْ يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَنْ يَكْفُرُوا بِهِ ).النساء: (٦٠)

ترجمه:- ايا تا هغه کسان نه دي کتلي چې دا دعواکوي چې دوی پرهغه څه ايمان راوړی دی چې تا ته نازل کړی شوي دي او پرهغه څه چې له تا نه مخکې نازل کړی شوي دي، دوی غواړي چې خپلمينځي فيصلې طاغوت ته يوسي،حال دا چې دوی ته له هغه نه د انکار کولو حکم شوی

**٦- د منافقينو د بدو عاداتو څخه يو دا عادت دی چې دوی په اسلام باندې استقامت نلري او د کفر او اسلام ترمنځ متزل** زل او مذبذب حالت لري. اسلام او کفر تر منځ مبارزه دوام لري او دا مبارزه کاميابي کله د مؤمنانو په برخه وي او کله د کفارو (الحرب سجال) او د منافقينو چلونه او تدبيرونه هم انتهاء نلري.کله چې منافقين وګوري چې غلبه او کاميابي او فتح د مؤمنانو طرف ته نو دوی وايې مونږ هم ستاسو سره يو او کله چې ويني چې کفار غالبه دي نو دوی بيا د کفارو طرفدار وي. حال داچې مسلمان بايد داسلام او حق طرفدار وي په خوښۍ او سختۍ کې ، په کاميابۍ او په ناکامۍ کې چې ديته په دين باندې استقامت او ثبات ويل کيږي او دا ثبات او استقامت دمنافق سره نه وي. الله تعالى د منافقينو

داحالت داسې بيانوي:( مُذَبْذَبِينَ بَيْنَ ذَلِكَ لَا إِلَى هَؤُلَاءِ وَلَا إِلَى هَؤُلَاءِ). النساء: (۱۴۳) ترجمه: دوی د دې (کفر او اسلام) په مینځ کې زړه نازړه دي، نه (سم) د دوی په طرف دي او نه (سم) د هغوی په طرف دي

په یو بل مبارک آیت کې ددوی دا حالت داسې بیان شوی دی:(الَّذِينَ يَتَرَبَّصُونَ بِكُمْ فَإِنْ كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِنَ اللَّهِ قَالُوا أَلَمْ نَكُنْ مَعَكُمْ وَإِنْ كَانَ لِلْكَافِرِينَ نَصِيبٌ قَالُوا أَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُمْ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ فَاللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلاً).النساء: (۱٤۱)

ترجمه:- هغه (منافقان) چې ستاسو په باره کې انتظار کوي، نو که د الله له جانبه تاسو ته فتح حاصله شي، دوی وايي: ايا مونږ له تاسو سره ملګري نه وو؟ او که چېرې د کافرانو لپاره څه برخه وي، (بيا نوکافرو ته) دوی وايي: ايا مونږ پر تاسو غالب شوي نه وو او (ايا) مونږ له مومنانو نه تاسو بچ نه کړئ؟ نو الله به ستاسو په مينځ کې د قيامت په ورځ فيصله کوي او الله به کله هم د کافرانو لپاره په مومنانو باندې (د غلبې) څه لار جوړه نه کړي

په حديث شريف کې د منافقينو ددې خصلت مثال داسې بيان شوی دی: عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « مَثَلُ الْمُنَافِقِ كَمَثَلِ الشَّاةِ الْعَائِرَةِ بَيْنَ الْغَنَمَيْنِ تَعِيرُ إِلَى هَذِهِ مَرَّةً وَإِلَى هَذِهِ مَرَّةً ». صحيح مسلم (۸ /۱۲٤)

ترجمه:- د منافق مثال په شان د هغه ګرځيدونکې راګرځيدونکې پسه په شان چې ددوه رمو ترمنځ ګرځي رااګرځي ( يعنې متحيره وي چې له کومې رمې سره يوځای شي ) يوځل دې رمې ته راځي او بل ځل هغه بلې رمې ته ورځي.

**۷-** منافقين د کفارو په لاس کې عزت لټوي او مؤمنان د الله تعالی په لاس کې او دهغه د رسول په ملګرتيا کې عزت ګوري.

که چیرې د نن صبا منافقینو ته وګورو دوی هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وخت دمنافقینو په څیر دي او عزت د کفارو په دوستۍ او ملګرتیا کې ګڼي او د هغوی د خبرو تابع دي او د حق خبره ددې له امله نه کوي چې ګوندې کفار به خپه شي ، نن صبا په فلسطين کې پر مسلمانانو داسې وحشت، بربريت روان دی چې هيڅ انساني وجدان يې نشي منلی او دنړۍ کفار ټول ددغه ظلم او بربريت هر ډول حمايت کوي خو د منافق ډوله مسلمانان ددې له خاطره د حق آواز نه پورته کوي چې کفار به خپه شي .

الله جل جلاله د منافقینو دا خصلت داسې بیان کړی دی: (بَشِّرِ الْمُنَافِقِينَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَاباً أَلِيماً. الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَيَبْتَغُونَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعاً). النساء:(۱۳۸-۱۳۹ )

ترجمه:- منافقانو ته زيری ورکړه چې بېشکه د دوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب دی هغه کسان چې له مومنانو نه غير کافران دوستان نيسي، ايا دوی د هغوی په خوا کې عزت لټوي؟ نو بېشکه عزت ټول د الله لپاره دی

**۸-** د منافقینو بل خصلت او عادت دادی چې دوی به د ځمکې په سر فساد خپروي خو دعوا به یې داوي چې دا مونږ یو چې د اصلاح او خيرخواهۍ کارونه کوو. منافقين به په ټولنه کې هر ډول ناوړه اخلاقو ته خلک دعوتوي او هر ډول رزيل او ذليل عادتونه به په ټولنه کې ترويجوي او هر قسم شر او فساد به خپروي ؛ خو که چيرې ورته وويل شي چې دا فساد مه کوئ دوی به په جواب کې درته وايي چې اصلاً په نړۍ او ټولنه کې خو مونږ دخير او صلاح کارونه کوو .يعنې دا هغه ناوړه مخلوق دی چې اخلاقي موازين او ارزښتونه به ګډوډوي او فساد او شر ته به خير او اصلاح وايي لکه د نن صبا منافقين.

الله تعالی ددوی ددې بد خصلت په اړه فرمايي:(وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لا تُفْسِدُوا فِي الأَرْضِ قَالُوا إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ. أَلا إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُونَ وَلَكِنْ لا يَشْعُرُونَ) البقرة: (۱۲)

ترجمه:- او کله چې دوی ته وويل شي چې په ځمکه کې فساد مه کوئ، دوی وايي: يقينًا همدا خبره ده چې مونږ خو بس اصلاح کوونکي يو خبردار! بېشکه همدوی فساد کوونکي دي، او لېکن دوی شعور نه لري

الله جل جلاله ددوی صفات مونږ ته ددې لپاره بيان کړي دي چې اصلي فساديان دامنافقين دي او ستاسو اصلي دښمنان منافقين دي ځانونه ور څخه وساتئ. الله تعالی فرمايي:(هُمُ الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ قَاتَلَهُمُ اللَّهُ أَنَّى يُؤْفَكُونَ).المنافقون:(٤)

ترجمه:- هم دوی دښمنان دي، لهذا ته له دوی نه محتاط اوسه، الله دې دوی هلاك كړي، څرنګه دوی ګرځولی شي.

**۹- د کفارو سره دوستي ، د منافقینو بل ناوړه او بد خصلت دادی چې دوی به کفارو سره دوستي کوي او دهغوی سره به یې مینه او محبت وي او ددوستۍ په وجه به د هغوی تقلیدونه هم کوي، د هغوی قوانین به هم غواړي ، دهغوی لباس ، فرهنګ او کلتور به هم خوښوي او مسلمانان به ورته سپک ښکاري او په اسلامي اقدارو او ارزښتونو به شرمیږي. الله تعالی ددوی دا خصلت مونږ ته راښایي او فرمایي:**

**(بَشِّرالْمُنَافِقِينَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَاباً أَلِيماً.الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَيَبْتَغُونَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعاً)** النساء:(۱۳۸-۱۳۹)

**۱۰- د جهاد بد ګڼل. دمنافقینو بل خصلت او ناوړه عادت دادی چې دوی د الله تعالی په لاره کې جهاد بدګڼي او خپله هم جهاد نکوي او نورو خلکو ته هم وایې سخته ګرمي ده جهاد ته مه ځئ مړه به شی او جهاد ته فتنه وایې: الله تعالی ددوی ددې عادت څخه پرده پورته کړی ده او فرمایي: (فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلَافَ رَسُولِ اللَّهِ وَكَرِهُوا أَنْ يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَقَالُوا لَا تَنفِرُوا فِي الْحَرِّ). التوبة: (۸۱)**

**ترجمه:- وروسته پاتې کړی شوي خلق، له رسول الله نه شا ته، په خپلو کېناستو باندې خوشحاله شول او دوی بد وګڼل دا چې په خپلو مالونو او ځانونو سره د الله په لاره کې جهاد وکړي او ویې ویل: تاسو په ګرمۍ کې (دې غزا ته) مه وځئ، په یو بل آیت کې راځي: (وَمِنْهُم مَّن يَقُولُ ائْذَن لِّي وَلاَ تَفْتِنِّي أَلاَ فِي الْفِتْنَةِ سَقَطُواْ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌ بِالْكَافِرِينَ).التوبة:(٤٩)**

**ترجمه:- په دوی کې ځینې هغه څوك دي چې وایي: ما ته اجازت راکړه او ما په فتنه (ګمراهۍ) کې مه اچوه، خبردار شئ! هم دوی په فتنه کې غورځېدلي دي او بېشکه جهنم یقینًا کافرانو لره راګېرووونکی دی**

**په یو بل مبارك آیت کې الله تعالی فرمایي: (وَإِذَآ أُنزِلَتْ سُورَةٌ أَنْ آمِنُواْ بِاللّهِ وَجَاهِدُواْ مَعَ رَسُولِهِ اسْتَأْذَنَكَ أُوْلُواْ الطَّوْلِ مِنْهُمْ وَقَالُواْ ذَرْنَا نَكُن مَّعَ الْقَاعِدِينَ. رَضُواْ بِأَن يَكُونُواْ مَعَ الْخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلَى قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لاَ يَفْقَهُونَ) التوبة: (۸۷)**

**ترجمه:- او کله چې کوم سورت نازل کړی شي (او دا حکم په کې وي) چې پر الله ایمان راوړئ او د هغه د رسول په ملګرتیا کې جهاد وکړئ، (نو) له تا نه په دغو کې د (مالي) طاقت والا د پاتې کېدو) اجازت غواړي او وایي: ته مونږ پرېږده چې اوسو (په کورونو کې) له کېناستونکو (ښځو، ماشومانو) سره دوی په دې راضي شول چې د پاتې شویو (ښځو، ماشومانو) سره وي او د دوی پر زړونو مهر لګول شوی دی، ځکه نو دوی نه پوهېږي**

**۱۱- د منافقینو بل عادت او بد خصلت دادی چې دوی په ټولنه کې ناکاره آوازې اچوي او د مسلمانانو دشکست خبرونه خپروي او هره ورځ د مسلمانانو پر خلاف پروپاګند کوي. الله تعالی فرمایلي دي: (لَئِنْ لَمْ يَنْتَهِ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ وَالْمُرْجِفُونَ فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلاً . مَلْعُونِينَ أَيْنَمَا ثُقِفُوا أُخِذُوا وَقُتِّلُوا تَقْتِيلاً). الاحزاب(٦١)**

**ترجمه:- قسم دی که دغه منافقان او هغه کسان چې د هغوی په زړونو کې (د بدکارۍ) مرض دی او په مدینه کې بدې (تشویشناکې) اوازې ګډوونکي، منع نشي (نو) مونږ به خامخا ضرور تا په دوی مسلط کړو، بیا به دوی په دې کې له تا سره هَم جواره (په ګاونډ کې) پاتې نشي مګر ډېر لږ (وخت) په داسې حال کې چې رټلي ترټل شوي به وي، هر چېرې چې موندل شي (نو) وبه نیول شي او وبه وژلی شي ډېر بد وژل کېدل**

**۱۲- د منافقینو بل ناوړه عادت دادی چې دوی تکبر او لویې کوي چې لویې کول او تکبر کول انسان هلاکوي. الله جل جلاله فرمایلي دي:**

(وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُولُ اللَّهِ لَوَّوْا رُءُوسَهُمْ وَرَأَيْتَهُمْ يَصُدُّونَ وَهُمْ مُسْتَكْبِرُونَ) المنافقون: (۵)
ترجمه:- او كله چې دوی ته وويل شي: تاسو راشئ چې د الله رسول ستاسو لپاره مغفرت وغواړي (نو) دوی خپل سرونه تاو كړي او ته دوی وينې چې اعراض كوي، په داسې حال كې چې تكبر كوونكي وي
**۱۳-** د منافقينو بل ناوړه عادت او بدخصلت دادی چې دوی ددې انتظار باسي چې كله به په مؤمنانو بده ورځ راځي او دمؤمنانو بدخواهي كوي. الله تعالی فرمايلي دي: (الَّذِينَ يَتَرَبَّصُونَ بِكُمْ فَإِنْ كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِنَ اللَّهِ قَالُوا أَلَمْ نَكُنْ مَعَكُمْ وَإِنْ كَانَ لِلْكَافِرِينَ نَصِيبٌ قَالُوا أَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُمْ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ). النساء: (۱۴۱)
ترجمه:- هغه (منافقان) چې ستاسو په باره كې انتظار كوي، نو كه د الله له جانبه تاسو ته فتح حاصله شي، دوی وايي: ايا مونږ له تاسو سره ملګري نه وو؟ او كه چېرې د كافرانو لپاره څه برخه وي، (بيا نوكافرو ته) دوی وايي: ايا مونږ پر تاسو غالب شوي نه وو او (ايا) مونږ له مومنانو نه تاسو بچ نه كړئ؟
بناءً څوک چې د مؤمنانو بدخواه وي او د مسلمانانو ذلت او ناكامي غواړي دوی منافقان دي او بايد چې حقيقي ايمان راوړي.
**۱۴-** منافقين بې عقله دي خو دوی مؤمنان بې عقله ګڼي. نو مؤمن ساده او بې عقله ګڼل د نفاق علامه ده او په چا كې چې دا علامه موجودوي بايد توبه ورڅخه وباسي. الله جل جلاله فرمايلي دي: (وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا كَمَا آمَنَ النَّاسُ قَالُوا أَنُؤْمِنُ كَمَا آمَنَ السُّفَهَاءُ أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَاءُ وَلَكِنْ لَا يَعْلَمُونَ). البقرة: (۱۳)
ترجمه:- او كله چې دوی ته وويل شي: تاسو ايمان راوړئ، لكه څنګه چې خلقو (صحابه وو) ايمان راوړی دی، نو دوی وايي: ايا مونږ ايمان راوړو، لكه څنګه چې بې وقوفو (كم عقلو) ايمان راوړی دی؟ خبردار! يقينًا همدوی بې وقوفه دي، او لېكن دوی نه پوهېږي
**۱۵-** د منافقينو بل ناوړه عادت او خصلت دادی چې دوی ګمان كوي چې دوی دالله تعالی سره دوكه او فريب كوي بل خصلت يې دادی چې په لمانځه كې سستي كوي . الله جل جلاله فرمايلي دی: ( إِنَّ الْمُنَافِقِينَ يُخَادِعُونَ اللَّهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ وَإِذَا قَامُوا إِلَى الصَّلَاةِ قَامُوا كُسَالَى يُرَاءُونَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ اللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا).النساء: (۱۴۲)ترجمه: بېشكه منافقان له الله سره دوكه كوي او الله له دوی سره دوكه كوونكی دی او كله چې دوی لمانځه ته پاڅېږي (، نو) سست (كاهلان) پاڅېږي، خلقو ته ځانونه ښيي او الله نه يادوي مګر ډېر لږ
نو څوک چې په لمانځه كې سستي كوي بايد ددې عادت څخه ځان وساتي.
**۱۶-** د منافقينو بل ناوړه عادت او خصلت دادی چې دوی په دروا‌غو قسمونه خوري او ډېر ډارن او ويريدونكي وي.
نو په دروا‌غو قسمونه خوړل د منافقانو علامه ده مونږ او تاسو ته په كاردي چې له دې عادت څخه ځان وژغورو. الله تعالی فرمايلي دي: ( وَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ إِنَّهُمْ لَمِنْكُمْ وَمَا هُمْ مِنْكُمْ وَلَكِنَّهُمْ قَوْمٌ يَفْرَقُونَ * لَوْ يَجِدُونَ مَلْجَأً أَوْ مَغَارَاتٍ أَوْ مُدَّخَلًا لَوَلَّوْا إِلَيْهِ وَهُمْ يَجْمَحُونَ). التوبة:(۵۷)
ترجمه:- او دوی پر الله قسمونه خوري چې بېشكه دوی يقينًا له تاسو څنې دي، حال دا چې دوی له تاسو څخه نه دي او لېكن دوی داسې قوم دی چې وېرېږي كه دوی څه د پناه ځای ومومي، يا غارونه، يا بل د ننوتلو ځای (، نو) خامخا به دوی هغه ته وګرځي، په داسې حال كې چې دوی به منډې وهي
**۱۷-** د منافقينو بل دا عادت دی چې دوی دا ډېر خوښ ګڼي چې د هغه كار صفت يې وشي چې دوی نه وي كړی. يعنې دوی ته هغه كمالونه منسوب شي چې دوی نه وی كړی چې متأسفانه دا عادت نن صبا په كمزورو مسلمانانو كې زيات ليدل كيږي.
نن صبا ځينې مسلمانان شته چې داسې القاب ورته وكارول شي چې په هغه كې بوی هم نه وي او داسې كارنامې ورته منسوب شي چې په خوايې هم نه وي ورغلی چې دا دنفاق علامه ده او بايد چې مسلمانان ورڅخه ځانونه وژغوري.

په یو حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِى سَعِيدٍ الْخُدْرِىِّ أَنَّ رِجَالاً مِنَ الْمُنَافِقِينَ فِى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كَانُوا إِذَا خَرَجَ النَّبِىُّ -صلى الله عليه وسلم- إِلَى الْغَزْوِ تَخَلَّفُوا عَنْهُ وَفَرِحُوا بِمَقْعَدِهِمْ خِلاَفَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَإِذَا قَدِمَ النَّبِىُّ -صلى الله عليه وسلم- اعْتَذَرُوا إِلَيْهِ وَحَلَفُوا وَأَحَبُّوا أَنْ يُحْمَدُوا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوا فَنَزَلَتْ (لاَ تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَفْرَحُونَ بِمَا أَتَوْا وَيُحِبُّونَ أَنْ يُحْمَدُوا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوا فَلاَ تَحْسَبَنَّهُمْ بِمَفَازَةٍ مِنَ الْعَذَابِ) [آل عمران: ۱۸۸] صحیح مسلم (۸ /۱۲۱)

ترجمه:- د ابو سعید خدری رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې ځینې کسان د منافقینو څخه د نبي علیه السلام په زمانه کې دهغوی دا عادت ؤ چې کله به نبي علیه السلام غزا ته وتلو له هغه څخه به پاتې شول او خوشحاله به ؤ د نبي علیه السلام څخه په وروسته پاتې کیدلو باندې، کله به چې نبي علیه السلام له غزا واپس راغی هغه ته به یې عذرونه کول او قسمونه به یې خوړل او دا به یې خوښه ګڼله چې ددوی صفت وشي په هغه څه باندې چې دوی نه دی کړی نو دا آیت نازل شو: (لاَ تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَفْرَحُونَ بِمَا أَتَوْا وَيُحِبُّونَ أَنْ يُحْمَدُوا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوا فَلاَ تَحْسَبَنَّهُمْ بِمَفَازَةٍ مِنَ الْعَذَابِ) [آل عمران: ۱۸۸]

**۱۸-** د منافقینو بل بدعادت او خصلت دادی چې دوی امر په منکر کوي او نهی له نیکۍ کوي. الله تعالی فرمایلي دي:( الْمُنَافِقُونَ وَالْمُنَافِقَاتُ بَعْضُهُمْ مِنْ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمُنْكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوفِ). التوبة: (۶۷) ترجمه: منافق سړي او منافقې ښځې د دوی ځینې له ځینو (نورو) څخه دي، دوی د ناروا حکم کوي او له نېکۍ نه منع کوي

**۱۹-** د منافقینو بله علامه او عادت دادی چې لمونځ د خپل وخت څخه وروسته کوي او لمونځ په جماعت سره نه کوي.

په یو حدیث شریف کې راځي: عن أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « تِلْكَ صَلاَةُ الْمُنَافِقِ يَجْلِسُ يَرْقُبُ الشَّمْسَ حَتَّى إِذَا كَانَتْ بَيْنَ قَرْنَىِ الشَّيْطَانِ قَامَ فَنَقَرَهَا أَرْبَعًا لاَ يَذْكُرُ اللَّهَ فِيهَا إِلاَّ قَلِيلاً ». صحيح مسلم مختصرا (۲ /۱۱۰)

ترجمه:- د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې ماد رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه فرمایل: دا دمنافق لمونځ دی چې کیني څاري لمر تردې پورې لمر د دوه ښکرونو د شیطان کې واقع شي نو بیا پاځي نو ټونګې ووهي څلور ځله نه یادوي الله تعالی لره مګر کم.

په یو بل حدیث شریف کې راځي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَلْقَى اللَّهَ غَدًا مُسْلِمًا فَلْيُحَافِظْ عَلَى هَؤُلاَءِ الصَّلَوَاتِ حَيْثُ يُنَادَى بِهِنَّ ...وَلَقَدْ رَأَيْتُنَا وَمَا يَتَخَلَّفُ عَنْهَا إِلاَّ مُنَافِقٌ مَعْلُومُ النِّفَاقِ). صحيح مسلم (۲ /۱۲۴)

ترجمه:- د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې څوک چې په دې خوشحالیږي چې دالله تعالی سره یې ملاقات وشي صبا په داسې حال کې چې مسلمان وي نو باید چې حفاظت وکړي ددې لمونځونو کوم وخت چې آذان ورته کیږي.... او په تحقیق سره مونږ به لیدل او زمونږ څخه نه وروسته کیده یعنې له جماعت څخه ؛ مګر منافق چې د هغه نفاق به معلوم او ښکاره ؤ.

په دې دواړو حدیثونو کې د عملي منافق صفات ذکر شوي دي او په کارده چې ځان ور څخه وساتو.

**۲۰-** پوچې خبرې کول او فحش وینا کول د منافقینو عادت دی او بې فائدې زیاتې خبرې کول هم د منافقینو خصلت دی.

په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الحَيَاءُ وَالعِيُّ شُعْبَتَانِ مِنَ الإِيمَانِ، وَالبَذَاءُ وَالبَيَانُ شُعْبَتَانِ مِنَ النِّفَاقِ»: سنن الترمذي ت شاك(۴ /۳۷۵)، المستدرك للحاكم (۱ /۵۱)ترجمه: د ابو امامه رضی الله عنه څخه روایت دی هغه د نبي علیه السلام څخه روایت نقلوي چې پیغمبر علیه السلام وفرمایل: حیاء او کمې خبرې کول دوه شعبې دي د ایمان څخه او فحش وینا کول او زیاتې خبرې کول دوه شعبې دي د نفاق څخه.

بناء د فحش صحبت څخه باید ځانونه وساتو او همداراز بې فائدې او بې ضرورته له زیاتو خبرو څخه هم باید ډډه وکړو.